AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی ۲۰۲۳/۰۷/۱۰

# نړيوالي ټولنې

## ۶۲ برخه

**ب– هغه نړیوالی ټولنې چې ځانګړی واکونه لري**

**۶ -- د تیلو صادرونکو هېوادونو ټولنه Organization of Petroleum Exporting Countries (OPEC):**

دا ټولنه د کال ۱۹۶۰ د سپتمبر په ۱۴، د بغداد په نړیوال کنفرانس کې، د سعودي عربستان، کویټ، عراق، ایران او ونزویلا تر مینځ جوړه شوه؛ خو اساسنامه يې په کال ۱۹۶۵ کې، د کاراکاس (ونزویلا) په غونډه کې تصويب شوه چې تر اوسه څو ځلي تعدیل شوې ده. الجزاير په ۱۹۶۰، قطر په ۱۹۶۱، لیبیا او اندونیزیا په ۱۹۶۲، متحده عربي امارات په ۱۹۶۷، نایجیریا په ۱۹۷۱، اکوادور په ۱۹۷۳او ګابون په ۱۹۷۵ کې د دېټولنې غړي شول. اکوادور په ۱۹۹۳ او ګابون په ۱۹۹۶ کې له OPEC څخه ووتل؛ خو اکوادور په کال ۲۰۰۷ کې بیرته د غړیتوب وړاندیز وکړ. OPEC اوس ۱۴غړي لري: الجزایر، انګولا، اندونیزیا، ایران، عراق، کویت، اکوادور، نایجریا، قطر، سعودي ، متحده عربي امارات او ونزویلا .[1]

غړيتوب: هر هغه هېواد چې د تېلو سترې زیرمې ولرې، د تیلو په برخه کې د پنځو بنسټ ایښودونکو هېوادونو په شان غوښتنې او ګټې ولرې او د تیلو صادرات يې د دېټولنې له سټندردونو سره برابر وي، د OPEC غړیتوب ترلاسه کولای شي. هر هېواد کولای شي چې د OPEC غړیتوب واخلي؛ خو په دی شرط چې د اوسنیو غړو ۷۵% موافقې رایې وګټي.

OPECدرېډوله غړي لري:

- بنسټ ایښودونکي: په کال ۱۹۶۰ کې د بغداد د نړیوالی غونډی برخه وال هېوادونه یا ایران، عراق، کویت، عربستان او ونزویلا،
- نوی غړي: هغه هېوادونه چې د OPEC له جوړېدو وروسته د غړیتوب شرایط پوره کړی او د حاضرو غړو ۷۵% رايې اخستی دی،
- کټونکی غړی: هغه هېوادونه چې تېل صادروي؛ خو د رسمي غړو شرایط نه لري. د داسي هېوادونو غړیتوب هم ۷۵% رایي ته اړتیا لري، په غونډو کې د رايې حق نه لري او یوازې د کټونکي (ناظر) په شان برخه اخلي.

که کوم هېواد له OPEC څخه د وتلو نیت ولري، د خپلې مالي ژمنې له پوره کېدو وروسته، یوه اعلامیه خپروي او د ټولنې له غړیتوب بڅخه وځي. [2]

اهداف:

- د يو غړي هېواد په وړاندې د تیلو د شرکتونو د فشار د کمولو له پاره، د دولتونو په تیلي سیاستونو کې د یووالي او همغږي رامنځ ته کول،
- د غړو هېوادونو د فردي او ډله ییزو ګټو د ساتنې له پاره د تدابیرو نیول،
- د تیلو د عادلانه او ثابتو بیو ټاکنه او د اومو تیلو د بیو د ټاکلو د حق انحصار،--
- د شرکتونو له خوا د تیلو د بیو د ځپڅاندی ( نوسان) مخنیوی،
- د وخت له غوښتنو سره سم، د ترونونو نوي کول،
- د تېلو صنعت په برخه کې د غړو هېوادونو د سیاستونو همغږي،
- د صنعتي کالیو له نړیوالو شاخصونو سره د تېلو د بیو تړل او د غړو هېوادونو د تېلو په شرکتونو کې مشارکت،
- د خپلو کورنیو صنایعو د ودی له پاره د تیلو منظم تولید،
- د تیلو د لویو شرکتونو په وړاندی د غړو ملاتړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د پاسنیو اهدافو د تحقق له پاره، غړي هېوادونه په بشپړه توګه مساوي دي. یعنې نه لومړني بنسټ اېښودونکي هېوادونه او نه د تېلو لوی صادرونکي هېوادونه هېڅ تفوق او امتیاز نه لري او بله دا چې ژمنې باید په ښه نیت پوره شي. د دې له پاره چې څوک په خپل سر کوم کار ونه کړي او تولنه یو ځای او پیاوړې پاته شي، باید ټول غړي هېوادونه، د اساسنامې مطابق، خپلې ژمنې سرته ورسوي [3]

جوړښت: کنفرانس، مدیره هیات او دارالانشا د OPEC درې مهم اداره کوونکې ارګانونه دي:

–کنفرانس: د OPEC تر ټولو لوړ ارګان چې د غړو هېوادونو د مالیې او تېلو له وزیرانو ا نورو لوړپوړو چارواکو څخه جوړ دی او په کال کې دوه ځلې په ویانا (استریا) یا کوم بل مناسب ځای کې غونډه کوي؛ خو د اړتیا په وخت کې ځانګړې غونډې هم جوړولای شي او هر غړی یوه رایه لري.

د کنفرانس لویې دندې دا دي: د OPEC د لویو سیاستونو ټاکل او دې اهدافو ته د رسیدو له پاره د آسانه لارو چارو موندل، د بودجې تصویب، د دوو کلونو له پاره د عامل هیات انتصاب، د یو کال له پاره د عامل هیات د مشر یا سرمنشیټاکل، د OPEC د سرمنشي او نایب منشي ټاکل، د عامل هیات د راپوروتو تصویب او د غړیتوب د نویو غوښتنو څېړنه. هر غړی هیواد په کنفرانس کس یوه رایه لری او پرېکړې د رایو اتفاق غواړي. کنفرنس کولای شی چې د اړتیا په وخت کی، د ځانګړو ستونزو د حل له پاره د OPEC په جوړښت کی بله تخصصی یا فرعی ځانګه جوړه کړی.

–مدیره هیات: د OPEC مدیره هیات د غړو هېوادونو له استازو جوړ دی چې د کنفرانس له تایید وروسته، د دوو کلونو له پاره کار کوي او هر کال دوه ځلې غونډې کوي. د کنفرانس په غونډو کې ګډون، د کنفرانس د پرېکړو عملي کول، ورځنۍ چارې، د سرمنشي د کاري راپورونو چمتو کول، د ټولنې د اړونده موضوعاتو په اړه د راپورونو جوړول، د بودجې برابرول او منظورې اخستل، د نایب منشي ټاکل، د کنفرانس د غونډو د اجندا برابرول، د غړو هېوادونو په وړاندیز د OPEC د بېلابېلو ځانګو او برخو د مشرانو ټاکل د ټولنې د مدیره هیات له واکونو څخه دي.

د OPEC هر غړی هیواد په مدیره هیات کی یو استازی لری او پریکړی بشپړ اکثریت ته اړتیا لری.[4]

–دارالانشا: دارالانشا د مدیره هیات تر نظر لاندې، د OPEC د دفتري او اجرايي کارونو مسوولیت په غاړه لري او له سرمنشي، نایب منشي او یو شمېر کارکوونکو څخه جوړه ده.

د دارالانشا په سر کې سرمنشي ځای لري چې له حقوقي پلوه د OPEC مشروع استازي او د دارالانشا مشر ګڼل کېږي چې د مدیره هیات له لارښوونو سره سم، د OPEC چارې په مخ بیایی.

سرمنشي د غړو هیوادونو د نوماندانو له ډلېڅخه، د کنفرانس له لوري د دریو کلونو له پاره ټاکل کېږي او دوه ځله کار کولای شي. دارالانشا پنځه څانګې لري: اداري، اقتصادي، حقوقي، اطلاعاتي او تخنیکي او احصاییه چې د تېلو تولیدونکو هېوادونو ارقام او احصاییې ټولوي.

OPEC لاندې کمېټې هم لري:

- ځانګړې کمېټه: د اړتیا په وخت کې د کارپوهانو په سویه جوړېږي او د مالي، پتروشیمي، طبیعي ګازو او نورو ورته (مشابه) مسایلو د څېړنې په هکله غونډې کوي.
- د وزیرانو کمېټه: دا کمېټه د کنفرانس له لارې، د ځانګړو مسایلو د څېړلو په هکله جوړېږي. لکه د بیو، ونډو او د OPEC د اوږدمهاله تګلارو په هکله پرېکړې او داسې نور.
- اقتصادي کمېټه: دا کمېټه چې د OPEC له سرمنشي، د غړو هېوادونو استازو او د څېړنو د دفتر له مشر (همغږی کوونکی) څخه جوړه ده، دنده لري چې د تېلو د نړیوال بازار د تثبیت، او د تېلو د بیو د ټیټیدو د مخنیوي په هکله علمي راپورونه ولیکي او د OPEC کنفرانس ته یې وړاندې کوي.

خپلواکه ارګانونه: OPEC دا خپلواکه ارګانونه لري:

- د OPEC ځانګړی صندوق: دا صندوق په کال ۱۹۷۵ کې له پرمختیایي هېوادونو سره د مرستې د پاره جوړ شو، او د OPEC هر غړی هېواد په هر صادراتي بېلر تیلو لس سنته ورکوي. دا مرستې په دوه ډوله لګول کېږی:

الف – پرمختیایي هېوادونو ته بې ګټې پورونه او یا د دوي له پرمختیایي پروژو سره مرسته،

ب – له هغه نړیوالو موسساتو سره مرسته، چې په پرمختیایي هېوادونو کې کار کوي،

- خبري آژانس: دا آژانس په کال ۱۹۷۹ کې د OPEC د دارالانشا په چوکاټ کې جوړ شو. د انرژي په برخه کې د OPEC او غړو دولتونو خبرونه او اطلاعات خپروي. آژانس دنده لري چې د لویدیځو هېوادونو د منفي تبلیغاتو په وخت کې، لکه د تېلو د بیو جګېدل او داسې نورو کې د OPEC ننګه وکړي.
- د انرژۍ نړیوال کنفرانس: دا کنفرانس هم لکه خبري آژانس، د تېلو د بیو د جګېدو او د لویدیځو هېوادونو د دریځ په غبرګون کې جوړ شوی دی.

د OPEC هر غړی هېواد دا مني، چې باید د خپل لګښت د ۶۰ ورځو تېل په زیرمه کې ولري، د اړتیا په وخت کې په خپل لګښت کې سپما وکړي، د تېلو د تحریم په استثنایي وختونو کې د خپلو تېلو تولید کم کړي او حتی دې ته چمتو وي چې د خپلو زیرمو تېل له نورو هېوادونو سره ووېشي.[5]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فعالیتونه: OPEC په نړۍ کی، د تیلو د تولید او د تیلو د بیو د ټاکلو په برخه کی، تر ټولو ځواکمنه او اغیزمنه ټولنه ده. پخوا دی ټولنی د نړۍ۴۰% تیل او ۱۶% گاز درلودل او ۵۵% صادرات یی کول او د تیری پیړۍ په اویایمو او اتیایمو کیبی ، په نړۍ کی د تیلو بیی ټاکلی؛ خو وروسته د نویو بدلونونو په توسن، دا واکمنی د OPEC له لاسه ووته او ځای یی د نیویارک، لندن او سنګاپور بورسونو ونیو.[6]
افغانستان اوOPEC : افغانستان د تیلو او گازو بډایه زیرمی لری. د ایټالویانو، جرمنانو، فرانسویانو، روسانو او امریکایانو سروی ګانی وایی چیافغانستان په شمال ختیځ، شمال، لویدیځ او جنوب کی تیل او گاز لری. له جګړوڅخه مخکی د افغانستان گاز شوروی اتحاد ته صادریدل. له بده مرغه چی تیرو او روانو ځلویښت کالنو جګړو، د افغانستان د تیلو او گازو د تفصیلی سروی ګانو، پروژه جوړونی، ایستلو، چاڼ، ویش او صادراتو مخه ډپ کړی او هیڅ پرمختګ نه دی شوی. که دا کارونه په وخت شوی وای، افغانستان به هم د OPEC غړیتوب لرلای. اوس – اوس د داسی غړیتوب تصور هم بیځایه ښکاری.

---

[1] روهی ویبپانه، د محمد شفیق صمیمی لیکنه.
[2] سازمان های بین المللی، داکتر محمد غفوری ، ص ۳۶۸-۳۶۶
[3] روهی ویبپانه، د محمد شفیق صدیقی لیکنه
[4] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۳۱۳-۳۱۴
[5] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۳۱۳
[6] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۳۱۴


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ